دَ قراٰن کریم دَ عظمت په باره کښې لیکلی شوی 70 کلامونه

# لفظونه ملغلرې



مولانا احمدعلی مردانی

Ketabton.com

اسلامی ادبی تولنه
یونیورسټی روډ مردان 0312-9818511

لفظونه ملغلرې نعتونه

تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قرآن کریم دَ عظمت په موضوع لیکلی شوی

شپیتۀ (60) کلامونه

## دَ نظمونو یوه حسینه ګلدسته

# لفظونه ملغلري

شاعر


مولانا احمدعلی مردانی

یونیورستی روډ خوره بانډه مردان

03129818511, 03208086524



خورونکے

اسلامی ادبی تولنه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمٰن الرحيم

# صلى الله على النبى الامّى

..............................................................

## هدايت دَ قرآن زندگی زندگی......................(نظم 1)

هدايت دَ قرآن زندگی زندگی
مينه زړونو ته دا ، راولی راولی
دَ غفلت دے علاج، هر ساعت دے علاج
راولی محبت ،دَ نفرت دے علاج
هر بشر بدلوی، هر حالت بدلوی
مينه زړونو ته دا ، راولی راولی
کړه ددي تلاوت ، هر ساعت هر ساعت
ورسره محبت، هر ساعت هر ساعت
هر خبره ئي شيرين، هر خبره ئي قوی
مينه زړونو ته دا ، راولی راولی
هدايت دَ هر کور ، هدايت دَ هر لور
هر طرف ته هر ځائي پاکوی زړونه تُور
بليدونکي هر اُورپه هرچا مړ کوی
مينه زړونو ته دا ، راولی راولی
حق فرمان دے دَ رب ، حق برهان دے دَ رب
يو قانون او دستور عاليشان دے دَ رب
مؤمنان ئي مني ، کافران نۀ مني
مينه زړونو ته دا ، راولی راولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حکمت ډك کتاب ، لاجواب لاجواب

انوارات دَ هر باب ، لاجواب لاجواب

نيشته نيشته اے ورور! بې له دي کاميابي

مينه زړونو ته دا ، راولي راولي

بې له دي نه ايمان نيشته نيشته اے ورور!

نۀ سکون اطمينان موجود شته په يو لور

ستا الحمده! کلام ، بهترين شاعري

مينه زړونو ته دا ، راولي راولي

..........................................................................

سحر مابنام مي دَ قرآن کړے تلاوت نصيب.....( نظم 2)

سحر مابنام مي دَ قرآن کړے تلاوت نصيب

ربَه ! په ژوند زما کړے هريو ښه عادت نصيب

ورته په شوق سره زۀ ناست وے په جمات کښي ربَه!

زما شامل وے په دُنيا دغه عادات کښي ربَه!

دوستي مي هرځائي دَ قرآن کړے هر ساعت نصيب

ربَه ! په ژوند زما کړے هريو ښه عادت نصيب

په يو يو حرف باندي ثواب به ربَ مولا راکوي

په يو يو حرف باندي به ربَ راله ښُکلا راکوي

اعلا اعمال مي په دُنيا کړے دَ جنت نصيب

ربَه ! په ژوند زما کړے هريو ښه عادت نصيب

دَ زړۀ نه زنګ لرے کوي دا عقيده لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ زړۀ نه زنګ لرے کوی اعلا توبه لرمه
ورسره هرخواته زما کړے هر عزت نصيب
ربّه ! په ژوند زما کړے هريو ښه عادت نصيب
احمده ! غوره دا کلام په کلامونو کښي دے
څنګه چي غوره دا اُمت په اُمتونو کښي دے
په دي سره مي دَ جنت کړے هر نعمت نصيب
ربّه ! په ژوند زما کړے هريو ښه عادت نصيب

.................................................................

قرآن چي وائي ورسره زړه ته سکون راځي ......( نظم 3)

قرآن چي وائي ورسره زړه ته سکون راځي
رڼا به هريوه لمحه په دي ژوندون راځي
حکم دَ ربّ دے دَ قرآن دَ تلاوت کولو
حکم دَ ربّ دے په دُنيا دَ عبادت کولو
ورسره زړونو کښي هرخواته ښۀ تړون راځي
قرآن چي وائي ورسره زړه ته سکون راځي
په يو يو حرف باندي ثواب دے لس نيکي دلته دي
عمل دا ښکلي لاجواب دے لس نيکي دلته دي
کۀ الف لام راځي او تا ته که حرف نون راځي
قرآن چي وائي ورسره زړه ته سکون راځي
ورسره زړونه صفا کيږي هر طرف ته تمام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره زړونه صفا کيږي هر طرف ته مدام
کۀ په اخلاص ورته نزدې هريو پښتون راځي
قرآن چې وائي ورسره زړه ته سکون راځي
شك په کښې نيشته دے احمده ! لاثاني عمل دے
هريو بشر له مؤمن له روحاني عمل دے
په تن اثر مدام دننه هم بيرون راځي
قرآن چې وائي ورسره زړه ته سکون راځي

.............................................................

قرآن له راشه کۀ ايمان غواړے.......... ..( نظم 4)

قرآن له راشه کۀ ايمان غواړے
مقام اُوچت کۀ په جهان غواړے
ورسره جوړ کړه تعلق په جهان
ورسره جوړ کړه تعلق هر زمان
کۀ تعلق دَ پاك سبحان غواړے
قرآن له راشه کۀ ايمان غواړے
غواړے کۀ حُسن دَ اسلام مذهب
غواړے کۀ حُسن دَ تمام مذهب
ژوند کۀ دَ ميني عاليشان غواړے
قرآن له راشه کۀ ايمان غواړے
غواړے دولت کۀ تۀ دَ نور هدايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړے عزت كۀ ته هر خواسعادت

دَ ژوند سكون كۀ اطمينان غواړے

قرآن له راشه كۀ ايمان غواړے

غواړے اخلاق كۀ حضور ﷺ ښۀ پوره

غواړے په هر مقام كۀ نور ښۀ پوره

كۀ حفاظت له هر شيطان غواړے

قرآن له راشه كۀ ايمان غواړے

توښه اعلا دَ آخرت دلته كښي

په كښي اعلا هر يو صفت دلته كښي

احمده ! تۀ كۀ حق بيان غواړے

قرآن له راشه كۀ ايمان غواړے

..........................................................

دَ قرآن چې زړۀ كښې كوروى ..(نظم 5)

دَ قرآن چې زړۀ كښې كوروى

كيدے نۀ شى چې زړۀ توروى

ډير حسين به وى ښائسته وى

قرآن سره زړۀ تكوروى

غم په سر نۀ لرى هغه

بيچ له شر نه له پيغوروى

هر طرف ته عزت مندوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــي دَ چـــا دَ ستـــرګـــو تـــور وی

هـــر مـــنـــزل بـــانـدي کـــامیـــاب وی

بـــچ پـــه قبـــر کنبـــي لـــه اُور وی

دَ قـــران ډیـــر بـــرکـــت دے

ډیـــر ددغـــي کتـــاب زور وی

زنـــکـــدن ئـــي پـــه ســـکـــون وی

پـــه ســـکـــون ســـره پـــه ګـــور وی

صـــلـــح امـــن راولـــی دا

وروروليـــ وی ورور دَورور وی

عـــلامـــت دَ خـــوشـــحـــالـــي دے

دا چـــي وی ، ظـــلـــم نـــهٔ شـــور وی

بهـتـــریـــن دَ ژونـــد دستـــور دے

نیشتـــه داســـي کـــه ډیـــر نـــور وی

ادب شتـــه ددي احـــمـــده!

قـــدر ځـــنګ چـــي دَپـــلار مـــور وی

..........................................................

حـقـه ویـنـا قـران ده................( نـظـم 6)

ویـــنـــا صـــفـــا قـــران ده

خـــوږه ویـــنـــا قـــران ده

دَتـــن بـــدن عـــلاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلا بۀ نن علاج
دَروح غذا قرآن ده
خوږه وینا قرآن ده

په دي رنځور بۀ کیږي
مالك مزدور بۀ کیږي
علاج شفا قرآن ده
خوږه وینا قرآن ده

عزت دَتېولو خلقو
جنت دَتېولو خلقو
حُسن ښکلا قرآن ده
خوږه وینا قرآن ده

بدلون په دي ښکلي دے
ژوندون په دي ښکلي دے
دَژوند رڼا قرآن ده
خوږه وینا قرآن ده

لري کړۀ زنګ په دغي
مدام کړه ننګ په دغي
توښه اعلا قرآن ده
خوږه وینا قرآن ده

ورشه احمده خواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے نیکـــــــه ! بـــده ! خـــوالــــــه
دوا ، دُعـــــــــا قــــــــــرآن ده
خـــــوږه ویــــنـــــا قـــــرآن ده

..................................................................

چـي تــهٔ وائــي قـرآن..... ................( نظم 7)

راضـی درنه به دلته په دنیا شی پاك سبحان (جل جلاله)
چــي تـــهٔ وائــي قــرآن ، چــي تــهٔ وائــي قــرآن
قـرآن عـظیـم دولت دے ، خبـر لـه دي نـه ځان کړه
رنـا دے هـدایـت دے ، خبـر لــه دي نــه ځـان کړه
رحـمـت دے ټول رحـمـت دے ، خبر له دي نه ځان کړه
بـرکـت دے ټول بـرکـت دے، خبـر لـه دي نـه ځان کړه
دا هــرڅــه بــه وی ستـا ، پـه تا دَ ربّ بـه وی احسان
چــي تـــهٔ وائــي قــرآن ، چــي تــهٔ وائــي قــرآن
نــزدي ورلـــه ښــه راشـــه ، اے وروره مسلمـانــه!
نــزدي ورلـــه ښــهٔ راشـــه ، بیدار اُوســـه انسـانــه!
نــزدي ورلـــه ښــهٔ راشـــه ، اے ګـرانــه قـدردانــه!
نــزدي ورلـــه ښــهٔ راشـــه ، اے وروره مهـربـانــه!
نـور څــه تـه دي حاجـت نیشتـه دولـت دي عـالیشان
چــي تـــهٔ وائــي قــرآن ، چــي تــهٔ وائــي قــرآن
لــحــد کښــي نــوررنـــا ده دَ هـــر بشـــر دَ پــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحد کښې هم ښکلا ده دَ هر بشر دَ پاره

تحفه دَ پاك الله ده دَ هر بشر دَ پاره

تحفه ډیره اعلا ده دَ هر بشر دَ پاره

لحد کښې به دي محفوظ شی له عذاب نه په امان

چې تهٔ وائې قرآن ، چې تهٔ وائې قرآن

مدام ئې تلاوت کړه ، احمده ښه په شوق

مدام دا عبادت کړه ، احمده ! ښه په شوق

عمل په هر سنت کړه ، احمده ! ښه په شوق

حاصل دا سعادت کړه ، احمده ! ښه په شوق

خفه به وي لتانه هرطرف ته هر شیطان

چې تهٔ وائې قرآن ، چې تهٔ وائې قرآن

............................................................

وائې چې قرآن ورله ډیر ثواب په اخرت شته .( نظم 8)

وائې چې قرآن ورله ډیر ثواب په اٰخرت شته

مقام او مرتبه ورله محشر کښې عزت شته

چې چا دَ ځان سره دغه دولت ساتلي دلته

چې چا دَ ځان سره دغه نعمت ساتلي دلته

په جار تولو ته وایمه مقام ورله اُوچت شته

مقام او مرتبه ورله محشر کښې عزت شته

چې ځوك دغه قرآن وائې سکون به ئې نصیب وی

دنیا کښې دَ دُنیا ښکلې ژوندون به ئې نصیب وی

صفا زړۀ عقیده لرم ددغې برکت شته

مقام او مرتبه ورله محشر کښې عزت شته

نیکې ورله په هریو حرف دی لس په هر مقام

نیکې ورله په هریو حرف دی لس دلته مدام

دَ هریو حرف بدل ئې شه جزاء دَ تلاوت شته

مقام او مرتبه ورله محشر کښې عزت شته

مولا دې کړي نصیب احمده! دا ښکلې دولت

مولا دې کړي نصیب زمونږ دا شرف او فضیلت

د دې نه علاوه هم نور اعلائې فضیلت شته

مقام او مرتبه ورله محشر کښې عزت شته

.................................................................

قرآن چې یادوی......................(نظم 9)

هر خواته به عزت لری قرآن چې یادوُی

بدله ښکلې جنت لری قرآن چې یادوی

قرآن چې یادوی دَ خوش نصیبه انسان کار دے

قرآن چې یادوُی اعلا حسین ښکلې ګفتار دے

رښا به هر ساعت لری قرآن چې یادوُی

بدله ښکلې جنت لری قرآن چې یادوی

قرآن چې یادوی په رحمتونو کښې وی پټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قــرآن چـي يــادوُی پـه نعـمتـونو کـښـي وی پـټ

پــه زړهٔ کـښـي بــه راحـت لـری قـرآن چـي يـادوُی

بـدلـــه ښـکـلـي جـنـت لـری قـرآن چـي يـادوی

قـــرآن چـــي يـــادوُی دَ اوليـــاوُتـولـو خـوښ وی

قــرآن چـــي يـــادوُی دَ عــلـمــاوُتـولـو خـوښ وی

اخـلاق بـــه ډيـر اوُچـت لـــری قـرآن چـي يـادوُی

بـدلـــه ښـکـلـي جـنـت لـری قـرآن چـي يـادوی

قـرآن چـي يـادوُی دَ مـور او پـلار وی هغـه خـوښ

احـمـده ! دَ پـردو ، خپـلو پـه جـار وی هغـه خـوښ

اعـلا پـــه ژونـد قـسـمـت لـری قـرآن چـي يـادوُی

بـدلـــه ښـکـلـي جـنـت لـری قـرآن چـي يـادوی

..........................................................

سحر مابنام کتابُ اللّٰه ووايه..................( نظم 10)

ســحـــر مـــابـنـــام کـتـــابُ الـلّٰـــه ووايـــه

د خپـــل مـــولـــیٰ حـــقــــه ويـنـــا ووايـــه

د حـــق ريـنـتـيـــا پــــه دي دنيــــا کـتـــاب دے

د هـــر انـســـان د هـــريـــو ســوال جــواب دے

راشـــــه راشـــــه ويـنـــا صـــفـــا ووايـــه

ســحـــر مـــابـنـــام کـتـــابُ الـلّٰـــه ووايـــه

ژونــدون ښـــائسـتـــهٔ د دي دنيـــا پـــه دي کـــړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون ښائستهٔ د خپل عقبیٰ په دي کړۀ
راشه تول حق، راشه رښتيا ووايه
سحر ماښام کتابُ اللّٰه ووايه
راشه عزت د هريو سر ښهٔ تاج دے
د هريو غم د هريو درد علاج دے
د هريو غم د پاره دا وويه
سحر ماښام کتابُ اللّٰه ووايه
په هريو حرف باندي جزا د ربَ ده
بدله احمده! په هر خوا د ربَ ده
ښهٔ په اخلاص سره بيا بيا ووايه
سحر ماښام کتابُ اللّٰه ووايه

.........................................................................

څوك چي قرآن وائی په يادو دا قرآن يادوی..(نظم 11)

څوك چي قرآن وائی په يادو دا قرآن يادوی
کلام شيرين دَ پاك اللّٰه د پاك سبحان يادوی
کله ئي دلته په دنيا چي تلاوت کوی څوك
ورسره خورم قسم چي دلته محبت کوی څوك
کار د نيکانو دے چي څوك د حق فرقان يادوی
کلام شيرين دَ پاك اللّٰه د پاك سبحان يادوی
د ربَ کلام په کلامونو کښي افضل ښهٔ غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



درب کتاب په کتابونو کښي افضل ښۀ غوره
عالي کتاب دے په دنیا ئي تول شاهان یادوی
کلام شیرین دَ پاك اللّٰه د پاك سبحان یادوی
ذمه اخستے ئي مولیٰ د حفاظت دلته کښي
اعلا مقام لري دنیا کښي فضیلت دلته کښي
د نوور رنیا دپاره دا تول طالبان یادوی
کلام شیرین دَ پاك اللّٰه د پاك سبحان یادوی
په دریشت کالو کښي مولیٰ دے رالیږلے مونږ له
د هریو سختے په هر ځائے کښي دے ملګرے مونږ له
دا ماشومان یادوی هم ئي مشران یادووی
کلام شیرین دَ پاك اللّٰه د پاك سبحان یادوی
د هر انسان د پاره نور د شریعت راغلے
د تول جهان دپاره حُسن سعادت راغلے
احمده! خلق ئي په مینه د مردان یادوی
کلام شیرین دَ پاك اللّٰه د پاك سبحان یادوی

---

خوند ښکلی قرآن ته په کتو کښي دے..( نظم12)

خوند کتابُ اللّٰه ته په کتو کښي دے
خوند د حق کلام په یادیدو کښي دے
خوند مزه په دي کښي هر ساعت شته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـــونــد مـــزه هـــر خـــواد تــلاوت شتـــه دے

خـونـد مــزه ئـي راشـــه پــه جـمـلو كښـي دے

خــونـد د حــق بيـــان پـــه يـــاديـدو كښـــي دے

تـــــش ورتـــــه كتــل دلتــــــه ثــواب دی هــم

دلتـــــه رحــمتـــونــــه پـــــه هـــر بـــاب دی هـم

خــونـد د حــق كـلام پــه خـكـليـدو كښـي دے

خــونـد د حــق بيـــان پـــه يـــاديـدو كښـــي دے

دلتــــه كښـــي نيـكـے پـــه هــر مـقـام شتــه دے

دلتــــه كښـــي ژونــدون لــره احــكـــام شتــه دے

ښـــكــلـــے دا كتــــاب پــــه سپـــارو كښـــي دے

خــونـد د حــق بيـــان پـــه يـــاديـدو كښـــي دے

دا لــــــرمے كــــوی د زړونــــو زنګ دلتـــــــه

اے احــمــده ! واخـلـــه تــريـنــه رنګ دلتـــه

مــونــږ ســره مـحـفـوظ دغـــه سينـو كښـي دے

خــونـد د حــق بيـــان پـــه يـــاديـدو كښـــي دے

.............................................................

د ربّ كتـاب ووايه.............................( نظم13)

د زړهٔ سـكـون د زړهٔ قـرار د پاره ، سحر ماښام د ربّ كتاب ووايه

د دي جهـان د هـريـو كـار د پـاره ، سحر ماښام د ربّ كتاب ووايه

ســحـــــر مـــــاښـــــام ووايـــــه ، د ربّ كـــلام ووايـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښة ادب سره تل ، دغه مدام ووايه

د برکت د کاروبار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

د زړة سکون د زړة قرار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

د نور رڼا کتاب دے ، د حق وينا کتاب دے

دا په دنيا دلته کښي ، اعلیٰ اعلیٰ کتاب دے

د هر عزت ښُکلا وقار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

د زړة سکون د زړة قرار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

په کښي احکام د ربّ دي ، بې شك تمام د ربّ دي

دا ملغلرے تولے د پاك کلام د ربّ دي

د ښة مقام اعلیٰ بهار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

د زړة سکون د زړة قرار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

وايه دا تل ووايه ، په هر محل ووايه

ناصح احمد علي دے ، په هر منزل ووايه

د لوئے مقام او د انوار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

د زړة سکون د زړة قرار د پاره ، سحر ماښام د ربّ کتاب ووايه

ده نور رڼا قرآن کښي ، حُسن ښکلا قرآن کښي

.................................................................

## خوند دے د قرآن په تلاوت کښي..........( نظم 14)

خوند دے د قرآن په تلاوت کښي

خوند دے د مولیٰ په شريعت کښي

دلته دي مزے هر يو بشر له

دلته دي مزے هر يو افسر له

خوند دے د نبي ﷺ په نصيحت کښې
خوند دے د مولیٰ په شريعت کښې
دلته د دنيا کانو تذکرے دي
دلته د نبيانو تذکرے دي
خوند دے د دنيا دغې دولت کښې
خوند دے د مولیٰ په شريعت کښې
چا چې ئې مزے دلته اخستے دي
ربّ ورته د خير لارے پرانستے دي
خوند دے د نبي ﷺ په محبت کښې
خوند دے د مولیٰ په شريعت کښې
څوك چې په اسلام باندې مئين دي
دوی په حق کلام باندې مئين دي
خوند دے د اسلام په اطاعت کښې
خوند دے د مولیٰ په شريعت کښې
زۀ احمد على بل ته داوايم
زۀ احمد على خپل ته داوايم
خوند دے د اسلام ښکلى دعوت کښې
خوند دے د مولیٰ په شريعت کښې

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ختمونه د قرآن ................................( نظم15)

ختمونه دقرآن دي زمونږه په جمات کښې
ګلونه د جهان دي زمونږه په جمات کښې
ختمونه دقرآن دي رڼا ده هرطرف ته
ختمونه دقرآن دي ښُکلا ده هرطرف ته
په حقه لار روان دي زمونږه په جمات کښې
ګلونه د جهان دي زمونږه په جمات کښې
ګلونه د جهان دي زمونږه په جمات کښې
دافضل د مولىٰ دے په دوی په دے جهان
دافضل د مولىٰ دے په زمکه دآسمان
ټول ستوري دآسمان دي زمونږه په جمات کښې
ګلونه د جهان دي زمونږه په جمات کښې
نعمت دے لوئے نعمت هر ځائے کښې تلاوت
نعمت دے لوئے نعمت د دین دغه نسبت
عالي دي عاليشان دي زمونږه په جمات کښې
ګلونه د جهان دي زمونږه په جمات کښې
برکت دے تل عزت احمده ! هر ساعت
توښه دآخرت احمده ! هر ساعت
ښهٔ کار کوي نيکان دي زمونږه په جمات کښې
ګلونه د جهان دي زمونږه په جمات کښې

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

..................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تول رحمت دے تول رحمت دے..........(نظم 16)

تيول رحمت دے تيول رحمت دے
دا قرآن هغه کتاب دے
مينه مينه محبت دے
دا قرآن هغه کتاب دے
انقلاب دَ هر يو باب دے
هر يو حرف ئي لاجواب دے
سراسر تيول نصيحت دے
دا قرآن هغه کتاب دے
تيول رحمت دے تيول رحمت دے
دا قرآن هغه کتاب دے
هر يو حرف کښي ئي ثواب دے
محافظ دَ هر عذاب دے
دَ سر سپورے هر ساعت دے
دا قرآن هغه کتاب دے
تيول رحمت دے تيول رحمت دے
دا قرآن هغه کتاب دے
نيغه لاره، ښۀ نصاب دے
معطر لکه گلاب دے
هر يو حرف ئي هدايت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قرآن هغه کتاب دے

ټول رحمت دے ټول رحمت دے

دا قرآن هغه کتاب دے

دوست دَ خان او دَ نواب دے

دَ غریب په هر یو باب دے

دا وائي سعادت دے

داقرآن هغه کتاب دے

ټول رحمت دے ټول رحمت دے

دا قرآن هغه کتاب دے

..............................................................

تل قرآن رڼا رڼا ده.............................(نظم 17)

تل قرآن رڼا رڼا ده

دَ جهان رڼا رڼا ده

دَ هرلاري دَ هرکور

په دُنیا کښي دَ هر لور

عالیشان رڼا رڼا ده

تل قرآن رڼا رڼا ده

په تیرو کښي دَ جهان

په تورتم کښي هر زمان

دَ انسان رڼا رڼا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل قرآن رڼا رڼا ده
زيات رڼائي له آفتابه
زيات رڼائي له مهتابه
تل هر آن رڼا رڼا ده
تل قرآن رڼا رڼا ده
تل رڼا دَ بحر وبر ده
تل رڼا دَ هر بشر ده
نور عرفان رڼا رڼا ده
تل قرآن رڼا رڼا ده
نور رڼا دَ هدايت ده
نور رڼا دَ شريعت ده
حق اعلان رڼا رڼا ده
تل قرآن رڼا رڼا ده
تل دَ زمکے ده احمده !
پيروکار دَ محمده ! ﷺ
دَ آسمان رڼا رڼا ده
تل قرآن رڼا رڼا ده

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



نُور دَ هرچا په جهان دے...................(نظم 18)

نُور دَ هرچا په جهان دے
دا قرآن دے دا قرآن دے
حق بنياد دَ هر ايمان دے
دا قرآن دے دا قرآن دے
حق کامله هدايت دے
نور کامل دَ شريعت دے
تل باعث دَ سعادت دے
رهنما دَ ټول جهان دے
دا قرآن دے دا قرآن دے
تلاوت ئي نُور رڼا ده
تل ښُکلا زما اوستاده
هر رنځور له شفا ده
پوخ يقين زما ايمان دے
دا قرآن دے دا قرآن دے
دَنيا کانو دے ملګرے
ښي کوي مونږ ته خبرے
دا لعلونه ملغلرے
هم ياقوت دے هم مرجان دے
دا قرآن دے دا قرآن دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



معطرئي هر حصه ده
اے احمده! معجزه ده
دَ حکمت یوه چینه ده
نازل شوے له اسمان دے
دا قران دے دا قران دے

..................................................................

دَ قرآن هره حصه...............................(نظم 19)

دَ قران هره حصه
دَ حضور ﷺ ده معجزه
داسي وائی عالمان
داسي وائی تول جهان
هریو حرف ، هره جمله
دَ حضور ﷺ ده معجزه
په کنبي خوند، بُسکلا هروخت
نور دے نور دَ هریو تخت
دَ حکمت یوه چینه
دا ثواب او عبادت
سعادت او هدایت
دَ هرلارے یو ډیوه
دَ حضور ﷺ ده معجزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دستور او یو منشور

دا دَ هر ځائے دلته نور

دَاخلاقو ګلدسته

دَ حضور ﷺ ده معجزه

دا بشُکلا دَ هر بشر

دا بشُکلا دَ بحرو بر

تلاوت کښې ئې مزه

دَ حضور ﷺ ده معجزه

دَاحمد دَزړه علاج

دَ نیکانو دَ سر تاج

عجیبه ئې ده نشه

دَ حضور ﷺ ده معجزه

---

مونږ له راکړے چې مولیٰ دلته کښې دا کتاب دے (نظم 20)

مونږ له راکړے چې مولیٰ دلته کښې دا کتاب دے

په هر صفت سره په ټولو کښې اعلا کتاب دے

له پاس آسمانه رالیږلے مونږ له رب هغه دے

شائسته قانون د ټول عجم او د عرب هغه دے

نور د قمر، نور دے د نمر، نور د صبا کتاب دے

په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے

دا محمد رسول الله ﷺ له رالیږلے رب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر آیت کښې ئې مولیٰ ایخې کامل ادب دے
ښائسته دے ښکلے ، ښهٔ اخلاق د مصطفیٰ ﷺ کتاب دے
په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے
د احکاماتو بیان رب په کښې واضحه کړے
د معاملاتو بیان رب په کښې واضحه کړے
دا په دنیا کښې د عاقل د هر دانا کتاب دے
په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے
د جهنم او د جنت ذکر په دے کښې شته دے
د هر رحمت او د عزت ذکر په دے کښې شته دے
پاك په دنیا کښې د هر شك نه په دنیا کتاب دے
په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے
هر یو کتاب چې په دنیا کښې دلته تالیدلے
هر یو کتاب چې په دنیا کښې دلته تالوستلے
په کتابونو کښې د ټولو نه اعلیٰ کتاب دے
په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے
ورته فرقان په کائنات کښې هر طرف ته وائی
ورته قرآن په کائنات کښې هر طرف ته وائی
واضحه ټول د دی جهان ښکلے صفا کتاب دے
په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے
د حکمتونو نه دے ډك دا عقیده لرمه
د برکتونو نه دے ډك دا عقیده لرمه
ټل په دنیا کښې د جهان د حق وینا کتاب دے
په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے

په تلاوت کښې ئې دے خوند دا ده هر چا ته پته

په تلاوت کښې ئې دے خوند ده اولیاء ته پته

رڼا د پاره په دنیا کښې د رڼا کتاب دے

په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے

ورستو ترے نشته بل کتاب دا آخیرے کلام دے

احمده! حُسن کښې کامله په دنیا تمام دے

تل د وفاداره په دنیا کښې د رښتیا کتاب دے

په هر صفت سره د ټولو نه جدا کتاب دے

.................................................................

واخله مزے واخله د قرآن د تلاوت نه............( نظم21)

واخله مزے واخله د قرآن د تلاوت نه

واخله مزے واخله د انوارو د سنت نه

وایه وایه دا په مینه محبت

وایه وایه دا دنیا کښې هر ساعت

واخله مزے واخله د دنیا د غښے نعمت نه

واخله مزے واخله د قرآن د تلاوت نه

وایه وایه تل سحر او مازیګر

پټه ده رضا په کښې د پاك غني اکبر

واخله مزے واخله د دے ښکلي عبادت نه

واخله مزے واخله د قرآن د تلاوت نه

وایه وایه مسلمانانه دا کلام

نور ئې په دنیا کښې شه کامله دے تمام

واخله مزے واخله د مولیٰ د غښے رحمت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخله مزې واخله د قرآن د تلاوت نه

وايه وايه دا زما دې نصيحت

وائي احمد وائي د طٰهٰ ﷺ دې نصيحت

بچ كړه په دې سره ځان د هريو شرارت نه

واخله مزې واخله د قرآن د تلاوت نه

---

مولیٰ دې رالیږلې هدايت له د انسان..............( نظم 22)

مولیٰ دې رالیږلې هدايت له د انسان

كتاب دغه قرآن، رڼا ده دا هر چا له

ملګري د هر دار، كلام د رب غفار

رڼا د هريو لار، دا وايه بار بار

د رب په دي دنيا كښې دې عظيم صفت برهان

وئيل ئې دي ثواب، پرده له هر عذاب

كلام دې لاجواب، عالي صفت كتاب

دنيا كښې د هر شر نه هر طرف ته دې امان

رحمت دې هر بشر له، بركت دې هريو در له

نعمت دې هر بشر له، غريب له هر افسر له

د حق او د باطل په مينځ كښې دلته دې فرقان

د ژوند په كښې احكام دي، احكام د خاص او عام دي

احكام پوره تمام دي، احكام د دين اسلام دي

واضحه په دنيا كښې هر طرف دې بيان

رهبر دې د پيريانو، د ټولو انسانانو

د ټولو امامانو، دنيا كښې د شاهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړونــو دلتــــه کښــي دے هــر طــرف تــه اطــمـيـنــان
تــوښــــه د اخـــرت دے ، لـــــه هـــر کـتـــاب اوچــت دے
واضــحــه حـقـيـقــت دے ، احـمـدده ! لـوئـے دولـت دے
بــنـيــاد د دے هـــر بشـــر لـــه پـــه دنيـــا کښـي د ايـمـــان
کـتـــاب دغــــه قــــرآن ، رڼــــا ده دا هـــــر چـــالــــه

------------------------------------------------------------

مونږه په دنيا کښي رهنما دغه قرآن لرو............( نظم 23)

مــونــــږه پـــه دنيـــا کښـــي رهـنـمـــا دغـــه قــرآن لــرو
نـــور د هـــر مـــکـــان لـــرو ، فـــضـــل د رحـــمـــان لـــرو
مــونــــږه نــورانـی صـفـت پـــه زمــکـــه دا دسـتـور لـرو
مـونـــږه نـورانـــی صـفـــت عـــالـی صـفـت منشـور لـرو
مــونــــږه اسـلامـی قـــانـون د زمـکـــے او اســمـــان لـرو
نـــور د هـــر مـــکـــان لـــرو ، فـــضـــل د رحـــمـــان لـــرو
هــر ســحــر مــابـښــام ئـي تـلاوت دلتـه کښـي خـونـد کـوی
هــر ځــائـے کښــي مدام ئـي تلاوت دلتـه کښـي خوند کوی
حُــســن او ښُـــکـــلا مـــونـــږه د هـــريـــو ګـلسـتـــان لـــرو
نـــور د هـــر مـــکـــان لـــرو ، فـــضـــل د رحـــمـــان لـــرو
چــا ســره چــي مل وی د عـزت پـــه لوئـے مقـام بـــه وی
هــر ځـــائـے هـريـو در لـره بـــه هغـه لوئـے امـام بـه وی
مـــونـــــږه د عـــــزت پـــــه هــــريــــو در دغـــــه ســـامـــان لـــرو
نـــور د هـــر مـــکـــان لـــرو ، فـــضـــل د رحـــمـــان لـــرو
دا ده د عـــــزت نـــخـــــه او دا ده د عـــظـــمـــت نـــخـــــه
دا ده پـــــه دنيـــا کښــي اے احـمـدده ! د وحـدت نـخـــه

ښهٔ واضحه دغه په دنيا درب بيان لرو
نور د هر مكان لرو، فضل د رحمان لرو

..................................................................................

رحمت رحمت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه.......( نظم 24)

رحمت رحمت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
ژوند دَ راحت كهٔ غواړې راشه قرآن ووايه
نورانيت په دي كښي، هريو صفت په دي كښي
ښكلي اخلاق په دي كښي، حق حقيقت په دي كښي
بركت بركت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
حُسن ښكلا په دي كښي هريو بشر لره شته
مقام اعلا په دي كښي غريب، دي لر او بر لره شته
تل هر عزت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
خير خوا زمونږ دَ ټولو دا دَ مولا كتاب دے
خير خوا زمونږ دَ ټولو دغه اعلا كتاب دے
هريو دولت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
لر كوي دا له زړونو دَ ګناه زنګ ښه پوره
وركه وجود لره ته دا اعلا رنګ ښه پوره
مقام اُوچت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت كهٔ غواړې، راشه قرآن ووايه
سحر ماښام دلته كښي وايه په مينه مينه

شیرین کلام دلته کښي وايه په مينه مينه
دَ ربّ قُربت کۀ غواړے، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت کۀ غواړے، راشه قرآن ووايه
خوشبو خوشبو ده تېوله، دَ پاك الله كلام
ښودلى مونږ ته ئي دى احكام حلال حرام
حسين جنت کۀ غواړے، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت کۀ غواړے، راشه قرآن ووايه
احمده! ښۀ ملګرے، دا دَ هر چا دلته کښې
دَ هر رنځور دَ پاره علاج دوا دلته کښي
مدد نُصرت کۀ غواړے ، راشه قرآن ووايه
رحمت رحمت کۀ غواړے، راشه قرآن ووايه

----------------------------------------------------------------

مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مۀ هيروه ..... ( نظم 25)

مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مۀ هيروه
دَ ګټي په دُنيا دَ ژوند سامان مۀ هيروه
مؤمنه! نوراني كتاب قرآن مۀ هيروه
دغه به ستا ملګري وي دَ حشر په ميدان کښي
دغه به ستا ملګري وي په هريو امتحان کښي
ملګري دا مخلصه په هيڅ شان مۀ هيروه
مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مۀ هيروه
دا زړونو ته سکون ورکوي هر خوا ته مدام
دا زړونو ته سکون ورکوي هر خوا ته تمام
سبب دا په جهان دَ اطمينان مۀ هيروه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مة هیروه
دَ هر رنځور دَ پاره بهترین صحت علاج
په هغه چا ښة نة لګی چې بدلری مزاج
دا فضل دَ مولا غني سبحان مة هیروه
مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مة هیروه
دا هیر کړی چې ځوك شته دے ورله غټې سزاګاني
قبلیږی ورسره دَ هر منونکی دُعاګانې
عمل ښة درود دَ تلے دَ میزان مة هیروه
مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مة هیروه
دا ستا سفارشی دے که دډة شولے ملګرے
اعلا سفارشی دے که ئې تة شولے ملګرے
شافع دَ مؤمنانو، حق بیان مة هیروه
مؤمنه! نوراني کتاب قرآن مة هیروه
احمده! په هر تکی ئې نیکی دی ثوابونه
هرخوا په تلاوت ئې ښکلې کیږی محفلونه
خوشو دَ هر محفل دا په جهان مة هیروه
مؤمنه! دَ الله کتاب قرآن مة هیروه

..............................................................................

ورسره ښکلې په هرخوا وی محفلونه.........(نظم 26)

ورسره ښکلې په هرخوا وی محفلونه
قرآن ووایه که غواړے جنتونه
حسین کتاب دا دَ الله دے
نوراني نور اعلا بالا دے

هر خوا په دې سره راځي برکتونه
قرآن ووايه کۀ ګټل غواړے جنتونه
په دي سره ښکلي هر ښار دے
په دي سره ښکلي هر دار دے
دد کلام دَ هر يو حرف دی ثوابونه
قرآن ووايه کۀ ګټل غواړے جنتونه
ووه منزلونه، ديرش سپارے دی
دَ انبياء په کښې قصې دی
ښکلي صفا الري حسين ټول بيانونه
قرآن ووايه کۀ ګټل غواړے جنتونه
نازل دے بره دا الله اسمانه
نازل دے بره دا الله رحمانه
جبرئيل راوړے دی حضور ﷺ لره حکمونه
قرآن ووايه کۀ ګټل غواړے جنتونه
رڼا په دغې دا مدرسې دی
سمي احمده! دا باغيچې دی
دا په دُنيا دی اے ديندارو رحمتونه
قرآن ووايه کۀ ګټل غواړے جنتونه

........................................................................

چې سحر ماښام کوی تلاوتونه.................( نظم 27)

چې سحر ماښام کوی تلاوتونه
بيا دَ څۀ لري په زړۀ باندي غمونه
دَ رنځور سړي علاج دَ هر يو غم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر طرف ته معالج په هر قدم دے
پاکوی دَ گناه گارو خلقو زړونه
چي سحر ماښام کوی تلاوتونه

تلاوت ئي دے پکار ډير په جهان کښي
تازگی راولی دا زمونږ ايمان کښي
هريو کور له رحمتونه، برکتونه
چي سحر ماښام کوی تلاوتونه

لازمی ورسره مينه محبت دے
هر ملګري دَ قرآن بره اُوچت دے
مه خوره، مه خوره په دي صرف قسمونه
چي سحر ماښام کوی تلاوتونه

رب عمل له راليږلے مسلمان له
رب عمل له راليږلے هر انسان له
دي نه مه جوړوه وروره! تعويذونه
چي سحر ماښام کوی تلاوتونه

لس نيکي ئي دَ هر حرف بدله ثواب دے
ښه ښکاره ئي هريو حکم لاجواب دے
ورسره هم ټول ريږيږي گناهونه
چي سحر ماښام کوی تلاوتونه

هريو شعر ستا احمده! نصيحت دے
ستا قرآن سره دَ ميني علامت دے
گواهان دي خبري ستا نظمونه
چي سحر ماښام کوی تلاوتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه .......... (نظم 28)

مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه
غم دَ يو خيز پۀ دې عالم مۀ کوه
دا رنګانې دَ هر چا دَ کور دي
دا رنګانې دَ هر چا دَ ګور دي
غم دَ تيرو دَ جهنم مۀ کوه
مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه
پۀ يو يو حرف باندي بدلۀ دا لري
څوك دَ محشر چي ښۀ توښه دا لري
کار دَ ګناه پۀ يو قدم مۀ کوه
مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه
ورته ښُکلا دَ هر چمن وائي تهول
خوشبو اعلا ورته دَ تن وائي تهول
بې ادبي دَ محترم مۀ کوه
مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه
سحر ماښام چي وي دَ چا ملګرې
ښۀ دې ملګرې دا اعلا ملګرې
نفرت لۀ ښۀ ملګري سَم مۀ کوه
مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه
وعظ نصيحت دې دَ احمد پۀ ژبه
حق حقيقت دې دَ احمد پۀ ژبه
نفرت دَ مينې لۀ قلم مۀ کوه
مَل چي قرآن دي وي خۀ غم مۀ کوه

چرته کښې چې ختم دَقران وى............( نظم 29)

چرته کښې چې ختم دَقرآن وى
هلته دَ رحمت شورو باران وى
هلته خوشبوئي په هر طرف به وى
اعلا زندګي په هر طرف به وى
هلته به سکون وى اطميان وى
چرته کښې چې ختم دَقرآن وى
هلته رڼاګاني خامخا به وى
هلته رڼاګاني په دُنيا به وى
جهلته کښې خوشحاله مسلمان وى
چرته کښې چې ختم دَقرآن وى
هلته به راجمع لوئي واړه وى ټول
هلته کښې به جمع ښۀ درانۀ وى ټول
هلته دَقرآن به عاشقان وى
چرته کښې چې ختم دَقرآن وى
هلته کښې ښُکلا به هر طرف ته وى
ښکلي پاس فضا به هر طرف ته وى
ګل به هغي ځائي ددي جهان وى
چرته کښې چې ختم دَقرآن وى
نۀ راځي احمده ! شيطانان ورله
نۀ دَشر نه ډك منافقان ورله
نۀ راځي مشرکه ، کافران ورته
خفه ورسره ټول کافران وى

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــرتَــه کښــي چــي ختــم دَ قــرآن وی

.......................................................................

چرتَه کښي وی چي ختمونه دَ قرآن.........(نظم 30)

چرتَه کښي وی چي ختمونه دَ قرآن

هلته کښي دَ رحمتونو وی باران

رحمتونه هر طرف تَه په هر لور

رحمتونه راوریږی کُور په کور

لرے کیږی ورسره تکلیف خفګان

لرے مۀ ځه په دُنیا له دي کتاب نه

لرے مۀ ځه دَ رڼا له دي کتاب نه

علامت دے دَ سکون او اطمینان

معطره ورسره هر یو مکان وی

معطره ورسره دغه جهان وی

دَ سپرلی په شان ماحول وی په جهان

کامیابی ورسره هر خوا ملاویږی

په دي زړونه هر طرف تَه صفا کیږی

عقیده ښۀ ده واضحه دَ انسان

چرتَه کښي وی چي ختمونه دَ قرآن

منوره په دي زړۀ دَ مسلمان وی

منورۀ په دي زړۀ دَ هر انسان وی

هر یو زړۀ ورسره وی پوره ودان

چرتَه کښي وی چي ختمونه دَ قرآن

ګناهونه ټول په دي سره رژیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتبې لوئې په دغې ملاوېږي
حفاظت دے په دُنیا الله هر طوفان
چرته کښې وی چې ختمونه دَ قرآن
هریو حرف ئې نصیحت دے لر او بر له
هریو حرف ئې نصیحت دے هر بشر له
شیطانانو نه دے امن او امان
چرته کښې وی چې ختمونه دَ قرآن
حق باطل نه جدا کیږی ورسره
وایه وایه دا سحر دغه ماښام
وایه وایه شپه په شوق دَ رب کلام
یو ذالې ده دَ مولا غنی سبحان
چرته کښې وی چې ختمونه دَ قرآن
غوره ټولو کتابونو کښې احمده!
لوئې نعمت په نعمتونو کښې احمده !
قوی کیږی ورسره زمونږ ایمان
چرته کښې وی چې ختمونه دَ قرآن

..........................................................................

لری مدام برکتونه..........................(نظم 31)

لری مدام برکتونه
دَ رب کلام برکتونه
زړۀ کښې به غم نۀ به خفګان وی
چې ستا سینه کښې دا قرآن وی
رحمت تمام برکتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ رب کلام برکتونه
ورسره خنګ په خنګ اُوسېږه
هيڅ کله مه ترې جدا کېږه
عالي مقام برکتونه
دَ رب کلام برکتونه
دستور قانون زمونږ دَ ژوند دے
ورسره هر بشر بلند دے
ښکاره پېغام برکتونه
دَ رب کلام برکتونه
دَ بيمارانو دا علاج دے
دَ هوښيارانو دَ سر تاج دے
سکون آرام برکتونه
دَ رب کلام برکتونه
په هر قدم رڼا رڼا ده
احمده! حُسن او ښکلا ده
دَ مېني جام برکتونه
دَ رب کلام برکتونه

..........................................................................

ناسته دَ جمات لرې ډيرزيات ثوابونه............(نظم 32)

ناسته دَ جمات لرې ډيرزيات ثوابونه
يو خواته رمضان چې وى ، او بل خواته ختمونه
هر خواته خوشبو دَ ذکر هر خواته سکون
ښکلي دَ جهان دے په دُنيا اعلا ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ دَ پاك الله وی په دُنیا دا محفلونه
یو خواته رمضان چي وی ، اوبل خواته ختمونه
غم لره علاج دغه دَ غمګین بشر
بله یو دیوه ده په میدان کښي دَ محشر
عام داسي محفل کښي دَ مولاوی رحمتونه
یو خواته رمضان چي وی ، اوبل خواته ختمونه
لویه ده دَ خیر ذریعه دلته په دُنیا
لویه ده دَ خیر وسیله دلته په هرخوا
هر خواته رغیږی ورسره دَ جهان زړونه
یو خواته رمضان چي وی ، اوبل خواته ختمونه
ناست دی صالحان دلته کښي ، ناست دی عالمان
ناست لوئي او واړهٔ دلته کښي ، ناست ښکلی ځوانان
اَوری نعت خوانانو نه په کښي ښکلي نعتونه
یو خواته رمضان چي وی ، اوبل خواته ختمونه
مهٔ کوه عبث خبرے دلته په دُنیا
زهٔ دي یم ناصح دلته کښي ،زهٔ دي یم خیر خوا
ما الحمد علی لیکلی مزیدار شعرونه
یو خواته رمضان چي وی ، اوبل خواته ختمونه

.....................................................................................

قرآن ته چي کیني ښهٔ په ادب سره کینه..........( نظم 33)

قرآن ته چي کیني ښهٔ په ادب سره کینه
په خیال او تصور کښي دَ خپل ربّ سره کینه
کلام دَ پاك الله دے ، هر کلام نه دا بالا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



كلام دَ پاك الله ، په كلامونو كښي باچا دے

چي لولولي دا قرآن هغي مكتب سره كينه

قرآن ته چي كيني ښۀ په ادب سره كينه

دا حق دے حقيقت دے زمادي باندي ايمان دے

په ټولو كتابونو كښي ښۀ غوره په جهان دے

چي كله هم كيني ښۀ په طلب سره كينه

قرآن ته چي كيني ښۀ په ادب سره كينه

نازل په محمد رسول الله دے مسلمانه !

نازل په محمد رسول الله ﷺ دے له اسمانه

خطيب سره كينه ، هم مخاطب سره كينه

قرآن ته چي كيني ښۀ په ادب سره كينه

راوړے له اسمانه دے جبرئيل دغه كتاب

اعلا په كتابونو كښي عظيم دے لاجواب

دَ خپل دَ كاميابي په ژوند سبب سره كينه

قرآن ته چي كيني ښۀ په ادب سره كينه

په هريو حرف بدله دَلس نيكو ده ستا دَ پاره

احمده ! قرآن وائي چي څوك دلته وي ديندار

خير خوا سره كينه ، عظيم منصب سره كينه

قرآن ته چي كيني ښۀ په ادب سره كينه

..........................................................................

مؤمنه ! دَ الله حسين كتاب مۀ هيروه........( نظم 34)

مؤمنه ! دَ الله حسين كتاب مۀ هيروه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محشر لـه دَ سوالونو حق جواب مـهٔ هيـروه
چي دا وائي نو تاتـه پـه محشر بـه تكليف نهٔ وي
چي دا وائي هرچاتـه پـه محشر بـه تكليف نهٔ وي
كلـه چي تـهٔ كيني ورتـه آداب مـهٔ هيـروه
مؤمنـه! دَ اللّـه حسين كتاب مـهٔ هيـروه
چي دغـه تـاتـه يـاد وي پـه لور بـه ئـي كاميابـه
چي دغـه تـاتـه يـاد هم پـه ګور بـه ئـي كاميابـه
پـه دي سره نيكان خلق كامياب مـهٔ هيـروه
مؤمنـه! دَ اللّـه حسين كتاب مـهٔ هيـروه
دُنيا كښي ښهٔ كول دي هريو حكم شتـه پـه دي كښي
هم دا ښكلـه لوستل دي هريو حكم شتـه پـه دي كښي
كارونـه دَ نيكي ټـول دَ ثواب مـهٔ هيـروه
مؤمنـه! دَ اللّـه حسين كتاب مـهٔ هيـروه
احـمـده! ښـهٔ شوق دا وايـه تـل مـدام
پوره پوره ځان پوهـه كړه ددين پـه ټول احكام
دَ حشر پـه ورځ كيږي بـه حساب مـهٔ هيـروه
مؤمنـه! دَ اللّـه حسين كتاب مـهٔ هيـروه

.................................................................................

محبوب دَ پاك سبحان دے هر حافظِ قرآن ........( نظم 35)

محبوب دَ پاك سبحان دے هر حافظِ قرآن
لـرونكي اوچت شان دے هر حافظِ قرآن
عامل چي پـه قرآن دے هر حافظِ قرآن

لرونکي اوچت شان دے هر حافظِ قرآن
عامل چې په کتاب وی
هغه هر خوا کامیاب وی
محفوظ له هر عذاب وی
بدله ئې ډیر ثواب وی
هر شر نه په امان دے هر حافظِ قرآن
لرونکي اوچت شان دے هر حافظِ قرآن
اعلا اُوچت نسبت دے
ددغې حق کتاب
برکت هر برکت دے
ددغې حق کتاب
په دغې قدردان دے هر حافظِ قرآن
لرونکي اوچت شان دے هر حافظِ قرآن
حسین ورسره کُور وی
کمال ددې کتاب دے
کۀ سپین وی او کۀ تور وی
په مخ ئې مدام نور وی
فخر دَ کُل جهان دے هر حافظِ قرآن
لرونکي اوچت شان دے هر حافظِ قرآن
دولت ورسره ښکلي
احمده! هر طرف ته
نعمت ورسره ښکلي
احمده! هر طرف ته

کرم دَ ربّ احسان دے هر حافظِ قرآن

لرونکي اوچت شان دے هر حافظِ قرآن

..........................................................................

حافظ صيب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی........( نظم 36)

حافظ صيب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی

بدله به دَ سکون په تلاوت ورکوی

هر کله چي محشر کښي هر طرف ته وی غمونه

هر چا سره په تن باندي پراته وی چي فکرونه

حافظ صيب له به پاك اللّه راحت ورکوی

حافظ صيب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی

په خپله به هر ځائي کښي دا بشروی په عزت

ورسره چي هر خواته دغه دَ نور دغه دولت

له شرنه به هر خوارب حفاظت ورکوی

حافظ صيب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی

نيکانو، صالحانو سره وی به دوست ملګرے

صادقه عالمانو سره وی به دوست ملګرے

ډير کم دی چي مولا دغه نسبت ورکوی

حافظ صيب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی

نسبت ئي ډير اوچت دے ښه احمده! په دُنيا کښي

مقام لرونکے لوئي دے په محشر کښي په عقبیٰ کښي

مقام به پاك اللّه دا خدمت ورکوی

حافظ صيب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی

..........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



حافظ صیب له مقام به ربّ اُوچت ورکوی.........( نظم 37)

مور پلار ته دَ حافظ به تاج دَ سر ملاویږی

عزت به ورته دغه په محشر ملاویږی

عزت دغه اکرام به په محشر کښي دَ حافظ وی

عزت دغه اکرام به لر او بر کښي دَ حافظ وی

مقام به ورته ښکلي ښه بهتر ملاویږی

عزت به ورته دغه په محشر ملاویږی

عزت دغه رتبه به ورکوی ورله الله

جنت اعلا صله به ورکوی ورله اَلله

صله به ورته دا له ربّ اکبر ملاویږی

عزت به ورته دغه په محشر ملاویږی

پخپله به رُو رُو په منزلونو بره خیژی

مقام به هر حافظ ته اُوچت دغه ملاویږی

بدله دغه اعلا به برابر ملاویږی

عزت به ورته دغه په محشر ملاویږی

احمده! هر یو حرف سره بدله شته نعمتونه

ډیر زیات شته دَ قرآن هر یو بشر له ثوابونه

قربت به ورسره دَ پیغمبر ﷺ ملاویږی

عزت به ورته دغه په محشر ملاویږی

..............................................................................

چاسره سینه کښي چي دَ الله کلام دے.........( نظم 38)

اُوګوره ئي لوئي مقام ، هر ځائي کښي امام دے

چاسره سینه کښي چي دَ الله کلام دے

هر ځائي مصلحه باندي دلته کښي ولاړ هغه

ښه پاکي حصه باندي دلته کښي ولاړ هغه

ځکه پيروکار هغه دَ خير الانام ﷺ دے

چاسره سينه کښي چي دَ الله کلام دے

وروستو وريسي ولاړ دلته کښي شاهان دی ټول

وروستو وريسي ولاړ ښة پوهه کسان دی ټول

نُور ئي په صورت باندي اُوګوره تمام دے

چاسره سينه کښي چي دَ الله کلام دے

هر څوك وريسي ولاړ ، مخکښي له هرچانه دے

څومره خوش نصيبه دے ، څومره عاليشانه دے

هر ځائي کښي لائق هغه ، ډير دَ احترام دے

چاسره سينه کښي چي دَ الله کلام دے

هغه تلاوت کوی نة ئي شته خوبونه نن

ښکلي عبادت کوی ، هغه کړی نفلونه نن

پريښي ئي قران له هر قسمه ارام دے

چاسره سينه کښي چي دَ الله کلام دے

ډير دے معزز هغه ، تاته ښة معلومه ده

ډير دے معزز هغه ، ماته ښة معلومه ده

هر ځائي کښي زما ورته ځکه درود سلام دے

چاسره سينه کښي چي دَ الله کلام دے

خوش دَ پاك نبی ﷺ هغه دلته کښي احمده ! دے

خوش دَ هر ولی هغه دلته کښي احمده ! دے

ذکر ئي اُوچت اوچت تل په هر مقام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاسره سينه كښي چي دَ الله كلام دے

..................................................................................

خوك دَ قرآن چي كوى تلاوتونه.............. ......(نظم 39)

سم دَ چمن دى خوشبوداره تهول ګلونه

خوك دَ قرآن چي كوى تلاوتونه

كار دَ سكون دے تلاوت

عمل دے لوئي دَ سعادت

ورته په دي به ملاويږى جنتونه

خوك دَ قرآن چي كوى تلاوتونه

دَ لاعلاجه بيمارانو

علاج دَ ټولو رنځورانو

پاكوى هر خواته زنګ شوى دغه زړونه

خوك دَ قرآن چي كوى تلاوتونه

عمل اعلا دَ هر بشر دے

حسين په دي سره هردر دے

ورسره هر خواته وريږى رحمتونه

خوك دَ قرآن چي كوى تلاوتونه

دا ذريعه دَ لوئي منصب ده

پته رضا په كښي دَ ربّ ده

په كښي دَ خوږ نبي ﷺ ښكاره دى صفتونه

خوك دَ قرآن چي كوى تلاوتونه

احكام دَ ژوند په كښي تمام شته

په كښي دَ ربّ پوره پيغام شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکاره ئي ټول لکه دَ نمر رڼا حکمونه
څوك دَ قرآن چي کوی تلاوتونه
کلام دَ خیر او برکت دے
کلام دَ میني محبت دے
سم دے شعرونه دی احمده! ټول لعلونه
څوك دَ قرآن چي کوی تلاوتونه

.....................................................................

په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!........... ......( نظم 40)

په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!
دَ رحمتونو بارانونه وروره!
نن ماشومان شول حافظان دقرآن
شولو محفوظ له هریو شر له شیطان
دَ قرآن ډیر دی برکتونه وروره!
په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!
په هر مقام باندي اختر دے
په هر طرف رڼا سحر دے
ګټلی دُوی ډیر ثوابونه وروره!
په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!
ډیر قدرمند ددي جهان حافظان
لری په زړونو کښي سکون اطمیان
دَ حق چمن دی ټول ګلونه وروره!
په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!
رڼه! دَ دُوی قاري صیب ښاد دی وی تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولا! آباد دَ دُوی استاد دی وی تل

ورته ښودلی سبقونه وروره !

په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!

لمن احمد علی دَ دُوی نیولے

لمن ئي هریو نیك سړی نیولے

ورسره ښکلي تهول شعرونه وروره!

په مدرسه کښي دی ختمونه وروره!

.................................................................................

یو ځلي جوړه بیا هرخواته خوشحالی ده........( نظم 41)

یو ځلي جوړه بیا هرخواته خوشحالی ده

دی ځه؟ .... دستاربندی ده دَ تهولو مبارك شه

خوشبو خوشبو ده په هر لار

ښواره دی هر خواته انوار

دَ ربّ کرم دے ، دَ هغه مهربانی ده

دی ځه؟ .... دستاربندی ده دَ تهولو مبارك شه

حسین ورسره هر مکان دے

ورسره جوړ دَ نور باران دے

هریو مکان ښهٔ خوشبودار دے خوشبوئی ده

دی ځه؟ .... دستاربندی ده دَ تهولو مبارك شه

اعلا اعلا دلته درسونه

اعلا اعلا تهول محفلونه

هریو رنځور بشر دَ پاره دوائی ده

دی ځه؟ .... دستاربندی ده دَ تهولو مبارك شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره ختمونه دَ قرآن دي
دَ ناظري، څه حافظان دي
ښکلي فضا ښه جوړه شوي نوراني ده
دي څه؟ .... دستاربندی ده دَ ټولو مبارك شه

ورسره هر محل حسين دے
اعلا منظر ښۀ بهترين دے
دَ طالبانو بهترين دا زندګی ده
دي څه؟ .... دستاربندی ده دَ ټولو مبارك شه

ناظره لوستي په ښۀ شان ده
هر يو معصوم ددي مكان ده
قاري صيب كړے ورسره ډيره خواري ده
دي څه؟ .... دستاربندی ده دَ ټولو مبارك شه

په هر يو فضل دَ رحمان دے
دَ نور كرم په دُوی باران دے
قرآن ته ناسته هر طرف ته كاميابی ده
دي څه؟ .... دستاربندی ده دَ ټولو مبارك شه

عمل اعلا دے دَ هر باب
ګټلي هر يو ډير ثواب
دلته اَخر لره تو ښه دا تياری ده
دي څه؟ .... دستاربندی ده دَ ټولو مبارك شه

هر يو مئين ښۀ په قرآن دے
هر يو اُوچت شيرين بيان دے
دَ خوند نه ډكه ستا احمده! شاعری ده

دي څه؟ .... دستاربندي ده دَپهولو مبارك شه

................................................................................

عشق پكار دے دَقرآن سره.................( نظم 42)

عشق پكار دے دَقرآن سره

مينه پكار ده دَجانان ﷺ سره

زمونږ دَزړونو دَسكون سبب

كلو، كورونو دَسكون سبب

مينه پكار دے حق بيان سره

عشق پكار دے دَقرآن سره

دَربَ كلام ته رانږدې شه ورته

حُسن تمام ته رانږدې شه ورته

مينه كوه دَربَ فرمان سره

عشق پكار دے دَقرآن سره

ستا به محشر ستا به آخر جوړوي

ستا به ژوندون په لراو بر جوړوي

مينه لازم ده حق برهان سره

عشق پكار دے دَقرآن سره

سحر ماښام ئي تلاوت ئي وظيفه

پكار ده دغه هر ساعت وظيفه

عادت دې دا وي مسلمان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق په کار دے دَ قرآن سره

په کښې دوا دَ هر مرض دَ پاره

په کښې شفا دَ هر مرض دَ پاره

هر څه په کار دي دَ ايمان سره

عشق په کار دے دَ قرآن سره

زمونږ دَ ژوند حسين دستور دغه دے

رڼا کۀ غواړے دَ ژوند نور دغه دے

دوستي اُونکړے دَ شيطان سره

عشق په کار دے دَ قرآن سره

جنت په دي سره به ربَ درکوي

عزت په دي سره به ربَ درکوي

مينه په کار هر انسان سره

عشق په کار دے دَ قرآن سره

دَ ثوابونو له پخوا ذريعه

احمده ! دا ده ښه اعلا ذريعه

تعلق دي دَ پاك سبحان سره

عشق په کار دے دَ قرآن سره

---

په کتابونو کښې اُوچت کتاب دے.............( نظم 43)

په کتابونو کښې اُوچت کتاب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواخله قرآن دَ تلاوت كتاب دے

سحر مابنام ورسره مينه كوه

زړۀ كښي مدام ورسره مينه كوه

دَ پاك الله ربُّ العزت كتاب دے

راواخله قرآن دَ تلاوت كتاب دے

په يو يو حرف دَ لس نيكو فضيلت

واخله دولت دا بي پيسو فضيلت

داسي اعلا دَ فضيلت كتاب دے

راواخله قرآن دَ تلاوت كتاب دے

مونځ كښي ددغي تلاوت كوُل دي

په اخلاص سره عبادت كوُل دي

دَ بندګي دَ عبادت كتاب دے

راواخله قرآن دَ تلاوت كتاب دے

په دي عاشق شه چي ژوندون دي ښۀ شي

زړۀ هم دننه، تن بيرون دي ښۀ شي

طبيب، علاج دي اُمت كتاب دے

راواخله قرآن دَ تلاوت كتاب دے

په دي عمل كوه احمده! هرخوا

تلاوت تل كوه احمده! هر خوا

هم هدايت هم سعادت كتاب دے

راواخله قرآن دَ تلاوت كتاب دے

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیشته دَقرآن په شان کتاب په کتابونو کښي.....( نظم 44)

نیشته دَ قرآن په شان کتاب په کتابونو کښي
دي سکون راووستے همیشه زمونږ په زړونو کښي
دي سره اُوچت دے هر بشر او هر یو در دلته
دي سره اُوچت دے په دنیا کښي لر او بر دلته
داسي یش قیمته لعل به نهٔ وي په لعلونو کښي
دي سکون راووستے همیشه زمونږ په زړونو کښي
داسي په دُنیا اعلا بالا اُوچت کلام نیشته
داسي بهترین اعلا دستور اعلا پیغام نیشته
نیشته دَ قرآن په شان نعمت په نعمتونو کښي
دي سکون راووستے همیشه زمونږ په زړونو کښي
زهٔ چي برکت غواړم په دي سره آغاز کوُم
زهٔ ئي تلاوت په ښهٔ ښائسته په ښهٔ انداز کوُم
دا دے اعلا ذکر د مولا ټولو ذکرونو کښي
دي سکون راووستے همیشه زمونږ په زړونو کښي
خوند ئي تلاوت کړي که غریب او که افسر کوي
خوند ئي تلاوت کړي پټ ، ښکاره که یو بشر کوي
دي حُسن راوستي خوشبوئي په چمونونو کښي
دي سکون راووستے همیشه زمونږ په زړونو کښي
دا دے ښهٔ ملګرے که ملګرے ځان له ښهٔ غواړے
اے احمده ! ته که رُسوائي په محشر نهٔ غواړے
ښکلي ددي رنګ دے د دُنیا ټولو رنګونو کښي
دي سکون راووستے همیشه زمونږ په زړونو کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام.................( نظم 45)

وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام
زړهٔ کښې به سکون راشی ستا په هر مقام

تل دَ زړهٔ سکون دغه ، تل دَ زړهٔ قرار دغه
وایه هم په پټه دا ، وایه هم په جار دغه
هر ځائې کښې کوه پوره تل ئې احترام
وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام

هرچا باندې دلته کښې ، تل ئې دے ادب لازم
ورسره مینه کوُل ، دې په دې مذهب لازم
ښهٔ ده وظیفه ښکلې هر خواته مدام
وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام

لس نیکې په یو تکی ، ښه اعلا بدله لری
ډیره دَ الله په در ، ښهٔ اعلا صله لری
وایه طهارت سره ، دا پوره تمام
وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام

دې سره دَ رب رضا ، هر قاری دَ پاره ده
ځان کړه په دې پوهه ښهٔ ، حقه نیغه لاره ده
وائی دا په خوند سره ، دَ جمات امام
وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام

ما احمد علی دلته ، ښهٔ په شوق لوستلې دے
ما ډیره په مینه تل دلته کښې وئیلې دے
ښهٔ ده وظیفه اعلا دَ سحر ماښام
وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي کښې رب ایښودې دې دَ ژوندون آرام
وایه ښهٔ په شوق سره دَ الله کلام

---

دَ مولادا حق کلام درنه هیر نشی.......... (نظم 46)

دَ مولادا حق کلام درنه هیر نشی
وایه تل مدام درنه هیر نشی
کامیابی دَ دوجهان په کښې پرته ده
دَ مولادا حق پیغام درنه هیر نشی
تلاوت ئې دې په کار هر یو ساعت
دا سحر دغه ماښام درنه هیر نشی
په ادب سره ددغې تلاوت کړه
دا ادب په هر مقام درنه هیر نشی
بهترین سفارشی دَ هر قاری دې
ستا امام دې احترام درنه هیر نشی
په ترتیل سره لوستل ئې دی راغلی
دغه حکم ټول تمام درنه هیر نشی
سعادت ئې ملګرتیا کښې هر ساعت دې
دا خیر خوا دَ خاص وعام درنه هیر نشی
ذریعه دَ ثوابونو ده احمده !
ذریعه دَ تن آرام درنه هیر نشی

---

دَ چا سره چې دلته کښې دولت وی دَ قرآن.......... (نظم 47)

دَ چا سره چې دلته کښې دولت وی دَ قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به خفه نشي يو طرف ته په جهان

اخلاق به ئي خائسته وي په اخلاقو به وي ښکلي

خائسته به دده کوروي او خائسته به ئي وي کلي

هر کور به دَ جهان ورسره دلته وي ودان

هغه به خفه نشي يو طرف ته په جهان

په مينه محبت سره به هريوه وينا کړي

کارونه هر طرف ته به دَ حُسن او وفا کړي

په ذکر سره تر به وي دده دلته زبان

هغه به خفه نشي يو طرف ته په جهان

دَ خپلو او پردو به هغه دلته قدردان وي

بيداره به هر ځائي کښي له هر شره له شيطان وي

ښه تيغ به وي ولاړ هريو باطل ته په ميدان

هغه به خفه نشي يو طرف ته په جهان

محشر کښي به مولا ورله عزت ورکوي ډير

هر در کښي به مولا ورله عزت ورکوي ډير

احمده! هر طرف ته به اُوچت وي دا انسان

هغه به خفه نشي يو طرف ته په جهان

.................................................................................

جوړ شو دَ قران ختم .......................... (نظم 48)

جوړ شو دَ قران ختم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

هر ځائي دَ جهان شو سم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

کلام پوره پوره

تمام پوره پوره

پیغام پوره پوره

انعام پوره پوره

راغے دَ مولا کرم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

انعام زما دَ ربّ

کلام زما دَ ربّ

تمام زما دَ ربّ

پیغام زما دَ ربّ

ښکلي شو عرب عجم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

یو نور دَ هر مکان

یو نور دَ ټول جهان

یو نور دَ مسلمان

یو نور دَ پاس اسمان

قیمتی شو هر قدم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

رڼا رڼا رڼا

رڼا ده دَ دُنیا

ښُکلا ښُکلا ښُکلا

ښُکلا ده دَ دُنیا

بره شو دَ دین عَلَم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

ثواب ثواب ثواب

هر حرف ددي کتاب

احمده ! لاجواب

آفتاب دے يا مهتاب

اُوليکل ټول حق قلم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

لاړلو له زړۀ نه غم ، جوړ شولو ، جوړ شولو

..............................................................................

هرځائي کښې سپرلي دے ، ښکلي ټول جهان دے .( نظم 49)

هرځائي کښې سپرلي دے ، ښکلي ټول جهان دے

سم لکه اَختر دے ، ختم دَ قران دے

خومره دَ خوندونو دغه ټول موسم دے

اُوګوره انسانه ! ښکلي ټول عَالَم دے

سم لکه دَ نُور هر خواته باران دے

سم لکه اَختر دے ، ختم دَ قران دے

څۀ ښکلي منظر دے اے خوږه انسانه !

څۀ ښکلي منظر دے ګرانه قدردانه !

ښکلي لاندي زمکه ، ښکلي پاس اسمان دے

سم لکه اَختر دے ، ختم دَ قران دے

دا تلاوتونه خوند راکوی ماته

دا تلاوتونه خوند درکوی تاته

هر يو زړۀ دَ پاره وروره ! اطمينان دے

سم لکه اَختر دے ، ختم دَ قران دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوك دې خوشحاله اُوګوره انسانه!
ښهٔ ښکاريږي تا ته پټ نه دي څه ستا نه
دي سره هر کور ښه پوره ودان دے
سم لکه اَختر دے، ختم دَ قرآن دے
زړه دا انسانه! وروره! دا قرآن
ښکلي په ښهٔ شان، دغه په جهان
رب په دي راضی دے، ښهٔ خفه شيطان دے
سم لکه اَختر دے، ختم دَ قرآن دے
اے احمده! څومره ستا چي دا اشعار دي
ډکه له نصيحت دي ښکلي مزيدار دي
صرف عقلمنده ددي قدردان دے
سم لکه اَختر دے، ختم دَ قرآن دے

..............................................................................

## انسانه! لوئي نقصان دے که تا پريښودو قرآن..... (نظم 50)

انسانه! لوئي نقصان دے که تا پريښودو قرآن
رخصت به له خپل زړهٔ نه کړے سکون او اطمينان
رُسوا به شے رُسوا به شے که پريښودو قرآن تا
رُسوا به شے رُسوا به شے کهٔ پريښود حق بيان تا
خفه به درنه رب شی اوراضی به شی شيطان
رخصت به له خپل زړهٔ نه کړے سکون او اطمينان
لاړ نشے ترينه لرے داسي وائی عالمان ټول
لاړ نشے ترينه لرے داسي داسي وائی هوښياران ټول
بس دلته کهٔ دے لرے نو بس لرے دے نادان

رخصت به له خپل زړۀ نه کړے سکون او اطمينان
قران نه کۀ شوے لرے خوږ آقا ﷺ به دي خفه شي
هر دوست دَ پاك الله نبکلي اعلا به دي خفه شي
ناکام به شے کۀ پريښودو تا دين دَ پاك سبحان
رخصت به له خپل زړۀ نه کړے سکون او اطمينان
غمونه به په سر کړے کۀ قران نه لرے لاړے
احمده ! يا به هر ځائي په دُنيا دلته کښي ژاړے
پو هيږے په سودا باندي په ګټه په تاوان
رخصت به له خپل زړۀ نه کړے سکون او اطمينان

---

قران نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي... .( نظم 51)

قران نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي
رحمٰن نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي
جنت خو دَ قران سره هر خوا په تعلق کښي دے
جنت خو پاك سبحان سره هر خوا په تعلق کښي دے
ايمان نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي
قران نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي
ايمان خو دَ قران نه بغير هيڅ کله قبليږي نه
رحمٰن خو دَ قران نه بغير وروره ! ملاويږي نه
فرقان نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي
قران نه لرے لرے ، هغه څنګ به جنت اُوګټي
خبره ستا رښتيا ده خو په دي نادان پو هيږي نه
احمده ! په خبره ستا هريو شيطان پو هيږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځان نه لرے لرے هغه ځنګ به جنت اوګټي

..........................................................................

نقصان نه لرے لرے خامخا سکون راحت ګټي... .( نظم 52)

نقصان نه لرے لرے خامخا سکون راحت ګټي

جنت هوښیاران خلق دَ قرآن په تلاوت ګټي

قرآن سره تړلي ده رضا دَ پاك اللّه دلته

ایمان سره تړلي ده رضا دَ مصطفیٰ ﷺ دلته

هوښیار چي وی کوشش کوی مدام دغه دولت ګټي

جنت هوښیاران خلق دَ قرآن په تلاوت ګټي

جنت کښي نعمتونه دَ قرآن دَ تلاوت بدله

جنت کښي ښهٔ وختونه دَ قرآن دَ تلاوت صله

اخلاص چي وی هر څوك ورسره هر قسمه نعمت ګټي

جنت هوښیاران خلق دَ قرآن په تلاوت ګټي

قربت دَ اولیاء به په جنت کښي هم صله لري

قربت دَ علماء به په جنت کښي ښهٔ بدله لري

هوښیار سړي کوشش کوی عظمت ګټي عزت ګټي

جنت هوښیاران خلق دَ قرآن په تلاوت ګټي

په یو یو حرف دَ لس نیکو اعلان شته دَ مولا دلته

په یو یو حرف دَ لس نیکو بیان شته په هرخوا دلته

احمده! ثوابونه هوښیاران په هر قیمت ګټي

جنت هوښیاران خلق دَ قرآن په تلاوت ګټي

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

..........................................................................

**قرآن نه لرے لرے دے ، جنت دي گټل غواړي ....( نظم 53)**

قرآن نه لرے لرے دے ، جنت دي گټل غواړي
نادان دے چې په دې دغه دولت دي گټل غواړي
لازم ده ضروری چې ورته دلته شي قريب
هلته به دَ قرآن شی تعلق ددۀ نصيب
نزدي نۀ ورځی دلته او رحمت دي گټل غواړي
لازم دی ورسره دَ زړۀ نه دلته تعلق
لازم دی ورسره دَ زړۀ نه هلته تعلق
له دي نه بغير دلته هر نعمت دي گټل غواړي
عاقل سړی په دي خبرو دلته ښۀ پوهيږی
احمده ! په هر قول دَ شريعت پوره رسيږی
چې دا نۀ کوی دلته اعلا صفت دي گټل غواړي

................................................................................

**رمضان دے او دي جمع عالمان ختم دَ پاره.... ......( نظم 54)**

رمضان دے او دي جمع عالمان ختم دَ پاره
زمونږه په جمات کښې دَ قرآن ختم دَ پاره
مقام دَ هر راحت دے
مقام دَ عبادت دے
نور نور نورانيت دے
واړه او لوئي دَ کلی ټول ځوانان ختم دَ پاره
رمضان دے او دي جمع عالمان ختم دَ پاره
ختم دَ پاك كلام دے
هادي دَ خاص او عام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستور اعلا پیغام دے
راځي ورله په شوق هر قدردان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
هیر نۀ کړے دا انسانه!
دا وایه مسلمانه!
نازل دے له اسمانه
ولاړ په مصلي دی حافظان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
سپرلي په لر او بر دے
دَ ختم دا اثر دے
ماحول سم دَ اختر دے
ولاړ مسلمانان دی مؤمنان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره
سکون دے اطمینان دے
هر در رڼا روښان دے
دنور شورو باران دے
احمده! معطر دے هر مکان ختم دَ پاره
رمضان دے اودي جمع عالمان ختم دَ پاره

..........................................................................

**رمضان دے تراوُو کښي حافظان ختم کوی...... ( نظم 55)**

رمضان دے تراوُو کښي حافظان ختم کوی
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم کوی
رحمت په داسي خلقو راوریږی له أسمانه

رحمت په داسي خلقو راوريږي له سبحانه
خوش بخته، خوش نصيب قاريان ختم كوي
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم كوي

اعلا دا طريقه دَ صالحانو مؤمنانو
ثابته طريقه ده له څلورو امامانو
په شوق او په جذبه هر يو انسان ختم كوي
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم كوي

بيشميره ئي فائدي دي دَ دُنيا په هر مقام
رڼا دَ هدايت ده حق دستور دَ حق نظام
دَ رب رضا دَ پاره دا جهان ختم كوي
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم كوي

كتاب دغه محشر كښي به ملګري وی زمونږه
هر خواته لر او بر كښي به ملګري وی زمونږه
شامل دي ورسره هم عالمان ختم كوي
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم كوي

دَ دُوی له بركته كور كوڅه زمونږ رڼا ده
دَ دُوی له بركته محله زمونږ رڼا ده
نيكي ګټي احمده! ټول نيكان ختم كوي
دَ پاك الله په فضل مسلمان ختم كوي

.......................................................................

راځے چي اوديږو په جمع تراوو ته........( نظم 56)

راځے چي اوديږو په جمع تراوو ته
ټول ښه په شوق سره دَ قران دلته اُوريدو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآن لوستلو کښې ثواب دے
هم اَوریدلو کښې ثواب دے
دَ خوش نصیبو دے کوز شوے دا سینو ته
راځئ چې اودیږو په جمع تراوُو ته
حافظ امام به تلاوت کړي
مونږ به ملګری دَ جنت کړي
قرآن اُوښایه ښه په شوق خپلو بچو ته
راځئ چې اودیږو په جمع تراوُو ته
په هر یو لفظ یوه نیکی ده
ورسره ښکلي زندګی ده
دا سبق اُوښایه هم خپلو ته پردو ته
راځئ چې اودیږو په جمع تراوُو ته
ورسره نُور په هر مقام شته
احکام احمده ! دَ عوام ته
ښائی دا نیغه لاره دلته کښې ژوندو ته
راځئ چې اودیږو په جمع تراوُو ته

.................................................................................

چرته چې ختم دَقرآن وی نو رحمت هلته وی.....( نظم 57)

چرته چې ختم دَ قرآن وی نو رحمت هلته وی
دَ ورورولي سبق دَ مینې محبت هلته وی
نۀ وی کینه، نه وی حسد دَ صالحانو مینځ کښې
نۀ وی کینه، نه وی حسد دَ مؤمنانو مینځ کښې
چرته چې نُور وی دَ قرآن نو نصیحت هلته وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
ورله راځی چي دَقرآن سره څوك مينه لری
ورله راځی چي پاك سبحان سره څوك مينه لری
دوست دَالله او دَرسول ﷺ به هر ساعت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
ورسره غم له تن بدن نه رخصتيږی وروره !
رنځور سړي ورسره ښه پوره رغيږی وروره !
دَتن بدن دَهريو كور دَژوند راحت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
رڼا رڼا په هر طرف په هر مقام پرته وی
حُسن ښكلا داسي محفل كښي تل مدام پرته وی
دا حقيقت دے فكر هم دَآخرت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
شيطان دَداسي محفلونو سره بغض ساتی
نادان دَداسي محفلونو سره بُغض ساتی
ځكه احمده !دَشيطان مخالفت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
دَ هدايت طالب دَپاره هدايت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
دا حقيقت دے ورسره خير بركت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی
په هر مقام په هر قدم نورانيت هلته وی
چرته چي ختم دَقرآن وی نور رحمت هلته وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمونږه په جمات کښې دَ رحمت شورو باران دے ..( نظم 58)

زمونږه په جمات کښې دَ رحمت شورو باران دے
ځکه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
رحمت نورانيت دے
اثر دَ تلاوت دے
عظيم دا عبادت دے
ماحول دا په دُنيا کښې دَ سکون او اطمينان دے
ځکه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
حسين دغه منظر دے
ماحول ټول معطر دے
خوشحاله هر بشر دے
خوشحاله لوئي وړوکي هم دَ کلي هر يو ځوان دے
ځکه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
هر خوا ته سم اختر دے
سپرلي په لر او بر دے
ده شپه خو سم سحر دے
خفه ورسره هر طرف ته اُوګوره شيطان دے
ځکه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
رڼا دَ الله کور دے
سکون په هر يو لور دے
يو صف کښې سپين او تور دے
په دې عمل خوشحاله پاك الله غني سبحان دے
ځکه چې رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ په مصله دے
حافظ په شوق ، جذبه دے
په خوند شه په مزه دے
قاري صيب شۀ لوستونکے بهترين شيرين بيان دے
څکه چي رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن دے
آواز دَ متقى دے
عاشق دَ پاك نبي ﷺ دے
مئين په هر ولي دے
په شوق ورته ولاړ احمده! هريو مسلمان دے
څکه چي رمضان دے ، هم ختم دَ قرآن د ے

.................................................................

جمات ته راشے دَ قرآن ختم دے ...........( نظم 59)

جمات ته راشے دَ قرآن ختم دے
په تراوو کښې دَ رمضان ختم دے
خير او برکت لره جمات ته راشے
نورانيت لره جمات ته راشے
دَ حق کتاب دَ حق بيان ختم دے
په کښې دُعا او کړۀ دُعا قبليږي
دُعا په سچه دَ هر چا قبليږي
دَ خوږ کلام دَ پاك سبحان ختم دے
پټ په انوارو کښې محفل دغه دے
دَ کاميابي دَ ژوند منزل دغه دے
خامخا راشے عاليشان ختم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته راځي هم فرښتې له بره
محفل دُنيا كښې دے حسين بهتره
دَ ربّ كرم دَ ربّ احسان ختم دے
په دي به اجر ملاوېږي مونږ ته
مشکل به هر يو اسانېږي مونږ ته
دَ لوئي ، ووړوكي هم دَ ځوان ختم دے
ورته راځي به عالمان خلق
بيان دَ پاره صالحان خلق
راشې كوُم دلته درته اعلان ختم دے
خوښ دَ احمد علي محفل دغه دے
غوره محفل تل له ازل دغه دے
توښه محشر له دَ جهان ختم دے

..................................................................................

اے زما مالكه ! ستا كرم احسان دے ..........( نظم 60)

اے زما مالكه ! ستا كرم احسان دے
زمونږ له چې راكړے تا دغه قرآن دے
زمونږ دَ ژوندون ........ په كښې ټول سكون
په هر يو صفت .......ښه كامل موزون
غوره بيانونو كښې دغه بيان دے
اے زما مالكه ! ستا كرم احسان دے
دَ ژوندون احكام ........ په كښې شته تمام
شته په كښې احكام ... دَ هر خاص او عام
ډهال له جهنم نه دا په هر ميدان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے زما مالکه! ستا کرم احسان دے

شته په دي اجرونه ..... اُوکړه تلاوت ئي

بدله نعمتونه .... اُوکړه تلاوت ئي

دوچنده ئي اجر، چاته چي داګران دے

اے زما مالکه! ستا کرم احسان دے

زۀ احمد به وايم ..تل به تلاوت کړم

ورسره په زړۀ کښي.... تل به محبت کړم

دا زما ايمان دے، دا زما اعلان دے

اے زما مالکه! ستا کرم احسان دے

دا له هر ضرر نه ، ښۀ پوره امان دے

اے زما مالکه! ستا کرم احسان دے

.....................................................................................

ستا دَقرآن سره چي مينه وی نور څۀ غواړے ته ..( نظم 61)

ستا دَقرآن سره چي مينه وی نور څۀ غواړے تۀ

دَ حق بيان سره چي مينه وی نور څۀ غواړے تۀ

ډير په قسمت دغه دولت وی دَ هر چا نصيب

ډير په قسمت دغه عزت وی دَ هر چا نصيب

ستا حق فرمان سره چي مينه وی نور څۀ غواړے تۀ

ستا دَقرآن سره چي مينه وی نور څۀ غواړے تۀ

سوال هميشه کوه چي دا وی هميشه تاسره

درسره دلته هميشه وی دا تحفه تاسره

ستا اطمينان سره چي مينه وی نور څۀ غواړے ته

ستا دَقرآن سره چي مينه وی نور څۀ غواړے تۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَاوليـــاءدَ ژونـد دُنيـــا كښـــې داحـصـــه دلتـــه كښـــې

دځ عـلـمـــاء دَژونـد دُنيـــا كښـــې دا حـصـــه دلتـــه كښـــې

ښـكلـې جـانـان ﷺ سـره چـې مينـه وي نور څـهٔ غـواړے تـهٔ

سـتـا دَ قـــرآن سـره چـې مينــــه وي نـور څـــهٔ غـواړے تـــهٔ

احـمـده ! شـكـــر پـــه دې دلتـــه كښـــې پكـار ډير ډير دے

هـريـو مـحـفـل ورسـره ښـكلـې خـوشبـودار ډير ډير دے

مـولا رحـمٰـن سـره چـې مينــــه وي نـور څـهٔ غـواړے تـــهٔ

سـتـا دَ قـــرآن سـره چـې مينــــه وي نـور څـــهٔ غـواړے تـــهٔ

---

نـن دې حـافـظ شوي دَ قرآن.................... ( نظم 62)

نــــن دې حــــــافـــظ شـــــوي دَ قــــــرآن

زمــــونـــــږه مــــدرســــــه كښــــــې طـــــالبـــــان

زار شـمـه لـه دوى نـه زه.....زار لـه مدرسي نه زهٔ

زار لــه دې چينــې نــه زهٔ....زار ئې تذكرې نـه زهٔ

ورســـــــره هــــــر كـــــور كـــــلــــــي ودان

نـــن دې حــــافـــظ شـــوي دَ قـــرآن.............

ښـكـلـې دوى قـرآن سـره....ښـكلـې حق بيـان سـره

نــور ســــره ايـمــان ســره.....حق دليـل بـرهـان سـره

ورســــره خـــــائستـــــه هـــريـــو مـــكـــــان

نــــن دې حــــافـــظ شـــوي دَ قـــرآن.............

دوى دې پـه قـرآن مـئيـن.....تـول پـه حق بيـان مئين

دوی په پاك سبحان مئین...په ښکلي جانان ﷺ مئین

تـــول دی دَ جـــنـــت پـــه لار روان

نـــن دی حـــافـــظ شـــوی دَ قـــرآن............

هـریـو قـدردان حـافـظ....هـریـو عـالیشـان حـافـظ

مـاتـه هـریـو ګران حافظ....هریو راتـه ګران حافظ

هـــریـــو دَ الـــلّـــه دَ کـــرم احســـان

نـــن دی حـــافـــظ شـــوی دَ قـــرآن............

هریـو دے اعـلا ښـکـلي.....هـر طـالـب بالا ښکلي

ښـهٔ پـه نُـور رڼا ښـکـلي....پـه حُسن ښکلا ښکلي

هـــریـــو ســـم یـــو ګـــل دګـــلستـــان

نـــن دی حـــافـــظ شـــوی دَ قـــرآن............

زړونـــه ئـــي صـفـا صـفـا......پـــه قـرآن رڼـا رڼـا

هـریـو تـن وفـا وفـا......ښـکـلي دوی پـه هـر ادا

ښـــکـــلـــي دَ احـــمـــدعـــلـــی بیـــان

نـــن دی حـــافـــظ شـــوی دَ قـــرآن............

..............................................................

قرآن له راشه خو شحالی په کښي ده..........( نظم 63)

قـــرآن لـــه راشـــه خـــو شـحـــالـی پـــه کښـــي ده

دَ ژونـــد اُصـــول شتـــه، ژنـــدګـــی پـــه کښـــي ده

دَ ځـــان نـــه لـــرے نـــهٔ کـــړے دغـــه دولـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ځان نهلرے نهٔ لرے دغه دولت
خورمه قسم چې كاميابي په كښې ده
دَژوند اُصول شته، زندګي په كښې ده
دغه دَزړونو دَراحت ذريعه
دغه دَ مينې محبت ذريعه
مينې كهٔ غواړے، قدرتي په كښې ده
دَژوند اُصول شته، زندګي په كښې ده
محفوظ سينه كښې كړه، چې هير دې نهٔ شي
عبث ژوندون دُنيا كښې تير دې نهٔ شي
طريقه بنكلي دَنبي ﷺ په كښې ده
دَژوند اُصول شته، زندګي په كښې ده
وئيل په شوق دا په اخلاص پكار دي
شعرونه ستا احمده! ټول دَكار دي
تلاوت تل ئې كړه نيكي په كښې ده
دَژوند اُصول شته، زندګي په كښې ده

.................................................................

دا چې نن دَ ختم دَقرآن دے زمونږه جمات كښې .( نظم 64)

دا چې نن دَ ختم دَقرآن دے زمونږه جمات كښې
دَرحمت هرخواته باران دے زمونږه جمات كښې
دا خواهش زمونږ دَټولو وو
دَ وړو، لويو او همځولو وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ خواهش پوره ارمان دے زمونږه جمات کښې

دَ رحمت هر خواته باران دے زمونږه جمات کښې

ورته ولاړه ښهٔ په شوق

له ربّ نه غواړه ښهٔ په شوق

ښکلې حسين اعلا دوران دے زمونږه جمات کښې

دَ رحمت هر خواته باران دے زمونږه جمات کښې

يو خوا قرآن لري برکت

بل خوا رمضان لري رحمت

ماحول حسين دَ اطمينان دے زمونږه جمات کښې

دَ رحمت هر خواته باران دے زمونږه جمات کښې

پوره ارمان شو دَ حافظ صيب

ژوندون روښان شو دَ حافظ صيب

دَ اختر سم ښکلې دوران دے زمونږه جمات کښې

دَ رحمت هر خواته باران دے زمونږه جمات کښې

پوره احمده ! ستا ارمان شو

ژوند دي حسين ددي جهان شو

منظر حسين ډير عاليشان دے زمونږه جمات کښې

دَ رحمت هر خواته باران دے زمونږه جمات کښې

.........................................................................

بچي دي ښهٔ ديندار په جهان جوړ که..... (نظم 65)

بچي دي ښهٔ ديندار په جهان جوړ که

محنت سره ئې حافظِ قرآن جوړ که

دا سوال کوه دُنيا کښې له مولا غني اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سوال كوه دُعا كړه هر طرف ته برابر
اسباب دَ حفاظت ئي دَ ايمان جوړ كه
محنت سره ئي حافظِ قرآن جوړ كه
په دي به تاله دركړي پاك الله اجر وثواب
په دي به تاله دركړي جنتونه لاجواب
كوشش كوه بچي دي ښكلي ځوان جوړ كه
محنت سره ئي حافظِ قرآن جوړ كه
دَ شپي ورځي محنت سره مقام دا ملاويږي
محنت هر ساعت سره مقام دا ملاويږي
محنت سره بچي دي عاليشان جوړ كه
محنت سره ئي حافظِ قرآن جوړ كه
په دي سره به تاته ملاويږي هر نعمت
په دي سره به تاته ملاويږي هر عزت
داسي په درونډ عمل ئي قدردان جوړ كه
محنت سره ئي حافظِ قرآن جوړ كه
داخل ئي مدرسه كښي كړۀ ، دَ خپل كلي جمات كښي
داخل ئي باغيچه كښي كړۀ ، دَ خپل كلي جمات كښي
مدام ئي دَ الله ښۀ ثناخوان جوړ كه
محنت سره ئي حافظِ قرآن جوړ كه
لازم دے تربيت په هر بشر دَ خپل اولاد
پكار دے اے احمده! چي ئي ښكلي وي بُنياد
لائق دَ هر صفت ئي هر زمان جوړ كه
محنت سره ئي حافظِ قرآن جوړ كه

**هوښیار چې وی بچی خپل حافظان جوړوی ......( نظم 66)**

هوښیار چې وی بچی خپل حافظان جوړوی
لائق دَ هر صفت ئې په جهان جوړوی
ورسره کړی محنت دلته سحر پوره ماښام
ورسره کړی محنت په هر طرف پوره تمام
دَ خپل بچو حسین وخت راروان جوړوی
لائق دَ هر صفت ئې په جهان جوړوی
بچو ته دُعا ګانې کړی هر وخت شام وسحر
بچو ته دُعا ګانې کړی هر خوا په لر او بر
په دې سره بچی خپل قدردان جوړوی
لائق دَ هر صفت ئې په جهان جوړوی
بوځی ئې مدرسې ته چې قرآن ورته شی یاد
بوځی ئې دې حصې ته چې قرآن ورته شی یاد
د دُوی ژوندون په دې سره روښان جوړوی
لائق دَ هر صفت ئې په جهان جوړوی
هر وخت ئې په نظر کښې وی مدام ورته دې ګوری
احمده! حفاظت ئې کړی تمام ورته دې ګوری
په سر ورته یخ سیوری عالیشان جوړوی
لائق دَ هر صفت ئې په جهان جوړوی

.................................................................

**ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دی..........( نظم 67)**

قرآن دَ مولا کتاب ډیر ئې ثوابونه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي

وایه دا سحر په شوق، وایه دا ماښام په شوق

وایه مسلمانه ! دا ......هرخواته تمام په شوق

دَ سکون راحت پوره دغه آیاتونه دي

ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي

آغاز په اقراء سره ...شوي په دُنیا ددي

هرخوا په دُنیا کښې ده... نور رڼا خوره ددي

وایه ورسره دلته هرخوا رحمتونه دي

ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي

آخري کتاب دَ ربَ ...هر بشر دَ پاره دا

آخري کتاب دَ ربَ ...لراو بر دَ پاره دا

ښهٔ واضحه دلته کښې ټول ددي حکمونه دي

ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي

دا په ناظري سره ووایه تمام پوره

شوق سره جذبي سره ووایه تمام پوره

ورسره محشر کښې ډیر ... هرچاله اجرونه دي

ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي

دا په ترجمې سره تل وئیل پکار دي ټول

هم ده خوشبوئی ټوله، هم دغه انوار دي ټول

وایه په بدله ددي تاله جنتونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي
دي سره اعلا اُوچت شته دے انسانان ښۀ ډیر
دي سره اعلا اُوچت شته دے صالحان ښۀ ډیر
سمي ملغلري دي، سم دغه لعلونه دي
ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي
چا چي تري انکار کړے ... هغه به ذلیله وي
چا چي تري انکار کړے ... هغه بي دلیله وي
منل دَ قرآن دلته ... حُسن عزتونه دي
ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي
لس نیکي بدله لري ... یو یو حرف ددي کتاب
دا اعلا صله لري ... یو یو حرف ددي کتاب
ښکلي ورسره زمونږ دغه ایمانونه دي
ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي
دغه حبل اللّٰه دلته، اُونسیه رسي دغه
هیڅ کله په یو مقام دلته مۀ پریږدي دغه
دي کښي د ژوندون دستور ښکلی صفتونه دي
ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي
ما ایمان په دي کتاب ... دلته کښي راوړے دے
ما احمد علی تمام ... دلته دا منلے دے
وایه ورسره هر خواته برکتونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره منسوخ تمام نازل کتابونه دي

.........................................................................

خيرخوا زموږ امام دے قرآن مقدس.........(نظم 68)

دَ پاك الله کلام دے قرآن مقدس

خير خوا زموږ امام دے قرآن مقدس

مدام به محبت .... ورسره دلته کښي کوُو

تمام به محبت ...... ورسره دلته کښي کوُو

باعث دَ هر آرام دے قرآن مقدس

خير خوا زموږ امام دے قرآن مقدس

هيڅ کله به له دغي نه.... نفرت نه کوُو موږ

کارونه به دَ شر.... دَ شرارت نه کوُو موږ

حُسن ماهِ تمام دے قرآن مقدس

خير خوا زموږ امام دے قرآن مقدس

په دي لرم ايمان ....زما ملګرو! شے خبر

دُنيا کښي خير خوا نيشته..... داسي بل دَيو بشر

خير خوا دَ خاص وعام دے قرآن مقدس

خير خوا زموږ امام دے قرآن مقدس

سينو کښي حفاظت.... په هر يو دردغي کيږي

اجروثواب په دي به ..... په محشر کښي ملاويږي

اعلا اُوچت پيغام دے قرآن مقدس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر خواز مونږ امام دے قرآن مقدس

احمده ! دَ قرآن .... هریو دښمن ذلیله دے

مدام دَ حق فرمان......... هریو دښمن ذلیله دے

عالی اُوچت مقام دے قرآن مقدس

خیر خواز مونږ امام دے قرآن مقدس

.............................................................................

كلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس .........( نظم 69)

زما او ستا ایمان دے قرآن مقدس

كلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

په عظمتِ قرآن به.... مونږه شو ټول فدا

په اَمر دَ رحمان به.... مونږه شو ټول فدا

راغلي له آسمان دے قرآن مقدس

كلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

هیچا له روا نه دی.... چې دې اُوكړي سودا

هیچا له روا نه دی ...چې كړي دلته ورته شا

لرونكي اوچت شان دے قرآن مقدس

كلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

هر زړهٔ كښې دے پكار.... ورسره مینه محبت

مدام دې كتاب.... دلته پكار دے تلاوت

ګران نه دے ښهٔ اسان دے قرآن مقدس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

هيڅ کله دَ اغيارو ...په وينا نه شے گمراه

هيڅ کله دَ کفارو ....په وينا نه شے گمراه

دَ ربَ کرم احسان دے قرآن مقدس

کلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

دا لويه معجزه ده .... دحضرت رسول اللّٰه ﷺ

پخپله حفاظت کوی .... دَ خپل کلام اَ اللّٰه

رڼا ښکاره فرمان دے قرآن مقدس

کلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

محفوظ دے په سينو کښې.... احمده ! دَ حافظانو

محفوظ دے په سينو کښې ....دَ نيکانو صالحانو

عظيم دليل برهان دے قرآن مقدس

کلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس

..........................................................

کلام دَ پاك سبحان دے قرآن مقدس .........( نظم 70

سپك دے چې قرآن ته سپك نظر کوی

سپك نظر بشر ته سپك بشر کوی

څوك چې مسخرې کوی په دين پسے

منديې وهي دې شيطان لعين پسے

دا عمل دُنيا کښې هر بدتر کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپك دے چې قرآن ته سپك نظر كوي

څوك چې دَ قرآن نه لرے لرې وي

څوك چې حق بيان نه لرے لرے وي

ځان سره زياتي په لراو بر كوي

سپك دے چې قرآن ته سپك نظر كوي

نه كړي تلاوت چې دَ قرآن دلته

نه كړي چې عزت دَ حق بيان دلته

داسي كار ناپوهه سړے خر كوي

سپك دے چې قرآن ته سپك نظر كوي

څوك چې دَ مولا احمده ! نه منى

څوك چې دَ آقا ﷺ احمده ! نه منى

داسي كار خو صرف يو كافر كوي

سپك دے چې قرآن ته سپك نظر كوي

..............................................................

تمت بحمد الله تعالىٰ وعونه

.... وافوض امري الىٰ الله .........وصلى الله تعالىٰ علىٰ

خير خلقه محمد وآله واصحابه واهل بيته اجمعين ومن

تبعهم باحسان الىٰ يوم الدين ....ربنا تقبل منا انك انت

السميع العليم وتب علينا انك انت التواب الرحيم

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**